# په سويډن کښي د پښتو ژبي د زده کوونکو

# د پښتو لوست نهم کتاب

# ۹

ترتيب کوونکی : عبدالعلي رسول‌زاده
۲۰۱۲\۹\۱

# تر پیل د مخه څه خبري

لکه څنګه چي تاسي ته معلومه ده  په سویډن کي د خارجیانو او مهاجرو کورنیو اولادونه د خپلي مورنۍ ژبي او کلتور د زده کړي او ساتني حق لري. د  مورنۍ ژبي او کلتور د دغه زده کړي او ساتني د پاره سویډني مقاماتو په ښوونځیو کښي د نورو مضمونو په څنګ کښي د مورنۍ ژبي او کلتور تدریس هم شامل کړئ دئ. د دغه مضمون نومړي د ښوونځي د نورو مضمونو په شان ارزش لري. د دغه تدریس تعلیمي نصاب او د نومرو ور کولو سیستم د ښوونځیو د نورو مضمونو په شان د ښوونځیو د وزارت د خوا څخه ترتیب سوئ دئ. وروسته تر دي بیا د مورنیو ژبو د اړونده ښوونکو له خوا د کار پلان جوړیږي.

دا چي د ۲۰۱۱ م کال د جولای د  میاشتي د لومړۍ نیټي څخه یو نوی تعلیمي نصاب منځ ته راغئ ځکه نو اړتیا پیدا شوه هغه تدریسي مواد او کتابونه چي تدریږي د هغه نوي تعلیمي نصاب سره برابر شي.

د دغه کتاب مضمونونه په سویډن کي د نهم ټولګي د پاره د ښوونکو د کار د پلان سره برابر را ټول سوي دي.

په دې کتاب کي د بیولوژي او ځني نورو مضمونو په باره کي هم څه نا څه لیکني را غلي دي. دا ځکه چي زموږ زده کوونکي باید وکولای سي چي د مورنۍ ژبي څخه و سویډني ته او د سویډني ژبي  څخه و مورنۍ ژبي ته ترجمه و کړای سي. د دې کار د پاره  باید زده کوونکي دغه لغاتونه په دواړو ژبو و پېژني.

شاید یو شمېر ښوونکي دغه کتاب د زده کوونکو له پاره سخت او مشکل و بولي. ما تر ډېر ځایه کوښښ کړئ دئ چي د نوي تعلیمي نصاب غوښتني په کښي مراعت کم. که بیا هم مشل وي په هغه صورت کي ګران ښوونکي یا یو بل اسانه کتاب غوره کي او یا تر هغو مشکلو درسو تېر سي.

په پخوانيو کتابو کي زده کوونکو ته څه نا څه شعرونه هم تديس کېده . زده کوونکو د شعرونو سره مشکلات در لوده . هغه ځکه چي په اشعارو کي يو زيات شمېر سخت لغاتونه ، تشبهات او استعارې موجودي وې . د دې له پاره چي که و سي چي دغه مشکل تر يوې اندازې پوري حل سي نو مي لازمه و بلله چي زده کوونکو ته لومړی د شعر يا منظوم کلام په باره کي څه نا څه معلومات ور کول سي ګوندي ګټور وي .

په درنښت

Abdul Ali Rasulzada
Mobil : 0046-( 0 ) 709- 384755
Tel: 040- 156753
alirasulzada@hotmail.com

# بسم الله الرحمن الرحیم

## حضرت محمد (ص)

حضرت محمد (ص) د عبدالله زوی او د عبدالمطلب لمسی دئ. پلار یې دده تر پیدا کېدو د مخه لا وفات کړئ وو. د ډېر کوچني والي څخه د ښو خویونو او اخلاقو خاوند وو.

د ټولو خلکو په منځ کي د صادق (ریشتیا ویونکي) په صفت مشهور وو. د ټولني د خلکو د ناوړو کارو څخه په فکر کي وو. په هغه وخت کي چي به د چا په کور کي نجلۍ پیدا سوه نو پلرونه به یې ډېر خواشیني وه. ډېرو خلکو به خپلي نوي پیدا سوي لوڼي ژوندۍ ښخولې. او دا به یې ویل چي دا خو نجیلۍ ده ګټه نه سي کولای، کور نه سي ساتلای او جنګ نه سي کولای.

حضرت محمد (ص) به هغو خلکو ته داسي ویل چي "دا نجوني مه وژنئ دا به داسي زامن راوړي چي هم به ګټه کولای سي، هم به کور ساتلای سي او هم به جنګ کولای سي."

پر بې وزلو مهربانه وو، د ناروغانو به يې پوښتنه کوله، د يتيمانو او کونډو د حاله به يې ځان خبراوه او مرسته به يې ورسره کوله.

د مېرمني نوم يې بي بي خديجه وو. لور يې چي بي بي فاطمه نومېده او د حضرت علي (کرم الله وجه) مېرمن وه دوه زامن يې درلوده چي يو يې امام حسن او بل يې امام حسين نومېدل.

---

لغاتونه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| حضرت | د عزت کلمه ده | وفات | مړ | | |
| په صفت | په توګه، په ډول | اخلاق | کړه، خويونه | | |
| ناوړه | بد، غلط | بې وزلي | بې چاره، خوار | | |
| ناروغان | نا جوړان، مريضان | مېرمن | ماينه | | |
| يتيم | چي پلار يې مړ سوئ وي | | | | |
| کونډه | چي مېړه يې مړ سوئ وي | | | | |
| ټولنه | ډېر خلک چي يو ځای ژوند کوي | | | | |

---

تمرين:

۱- د حضرت محمد (ص) پلار څه نومېدئ؟

---

۲ـ د حضرت محمد (ص) نيکه څه نومېدئ ؟

---

۳- د حضرت محمد (ص) د مېرمني نوم څه وو ؟

---

۴ـ د حضرت محمد (ص) لمسيان څه نومېدل ؟

---

لاندي لغاتونه په جملو کي استعمال کئ!

وفات :____________________________________________

اخلاق :___________________________________________

بې وزلي :__________________________________________

مېرمن :___________________________________________

ټولنه :____________________________________________

کونډه :____________________________________________

ناوړه :____________________________________________

يتيم :_____________________________________________

د حضرت محمد (ص) د ژوند په باره کي لږ تر لږه درې ليکي (کرښي) و ليکئ! په دې شرط چي ټکي په ټکي د تېر لوست جملې نه وي:

_______________________________________________________

_______________________________________________________

_______________________________________________________

_______________________________________________________

_______________________________________________________

_______________________________________________________

_______________________________________________________

# غوره ويناوي

هسي رښتني ملګري و مومئ چي په ښه ورځ مو مجلس پرې ښايسته وي، او په سخته ورځ مو ملا تړ سي.

( حضرت عمر رضي الله تعالی عنه )

هر څوک چي زموږ عيبونه را ښيي پاک خدای (ج) دي پرې و رحميږي.

( حضرت عمر رضي الله تعالی عنه )

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| غوره | ښه | هسي | دا ډول |
| ملا تړ | کومکي | عيبونه | غلطۍ ، خرابي |
| و مومئ | پيدا کړئ | رښتنی | واقعي ، په رښتيا |
| وينا | خبري | | |

تمرين: د حضرت عمر ( حضرت عمر رضي الله تعالی عنه ) د دغي خبري څخه چي وايي:

هسي رښتني ملګري و مومئ چي په ښه ورځ مو مجلس پرې ښايسته وي، او په سخته ورځ مو ملا تړ سي.

څه زده کړه؟ لومړی يې په خوله بيان و کئ او بيا يې و ليکئ!

___

___

___

___

د حضرت عمر (رضي الله تعالی عنه) د دغي خبري څخه چي وايي:

**هر څوک چي زموږ عیبونه را ښیي پاک خدای (ج) دي پرې و رحمیږي.**

_______________________________________________

_______________________________________________

_______________________________________________

لاندي لغاتونه په جملو کي استعمال کړئ!

غوره : _______________________________________________

هسي : _______________________________________________

ملا تړ : _______________________________________________

عیبونه : _______________________________________________

و مومئ : _______________________________________________

رښتني : _______________________________________________

ویناوي : _______________________________________________

وینا : _______________________________________________

# د سګرېټ څکولو ګټې

په یوه مجلس کې یو څو تنه ناست وه خبرې یې کولې. د مجلس د منځ څخه یوه مجلسي پوښتنه وکړه، "څوک کولای سي چي ماته د سګرېټو ګټې ووایي؟"

د مجلس د منځ څخه یوه لا هم څه و نه ویل ځکه چي سګرېټ څکول خو موږ ته معلوم دي چي کومه ګټه نه لري.

سوال کوونکي وویل چي" زه به نو اوس د سګرېټو د څکولو ګټې در ته ووایم، سګرېټ څکول درې ګټې لري". د مجلسیانو په فکر کي ورغله چي دا سړی څه وایي.

سړي وویل:" سګرېټ درې ګټې لري:"
لومړۍ ګټه:" سپی یې نه داړي."

دوهمه ګټه:" کور ته یې غله نه ور ځي."
دریمه ګټه:"سړی نه زړیږي."
خلکو ګومان وکړ چي رښتیا وایي.

سړي وویل غوږ ونیسئ چي زه یې درته روښانه کړم:

"سپی یې ځکه نه داړي چي د سګرېټ څکولو په سبب به ناروغه وي او لکړه به په کار اچوي نو سپی چي لکړه ویني نو نه به ورته رانیژدې کیږي.

کور ته يې غله ځکه نه ورځي چې د سګريټو د څکولو په سبب ټوله شپه ټوخيږي او غل دا ګومان کوي چې د کور خاوند ويښ دئ. سګرېټ څکوونکی په دې نه زړېږي چې په ځواني کې لا مري.”

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| داړل | چيچل | ګومان | خيال ، فکر |
| لکړه | د لاس لرګی | رښتنی | واقعي ، په رښتيا |
| و مومئ | پيدا کړئ | وينا | خبري |

تمرين: لاندي لغاتونه په جملو کې استعمال کړئ!

داړي : ______________________________

ګومان : ______________________________

لکړه : ______________________________

رښتنی : ______________________________

د سګريټ څکولو د ګټو او تاوانونو په اړه تاسي څه زده کړه و يې ليکئ!

______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

# روغتیا

روغتیا (صحت) هغه نعمت دئ چي خدای (ج) و انسانانو ته ورکړئ وي. ټوله انسانان غواړي چي د پوره روغتیا درلودونکي وي. دوی غواړي چي په ځان کي يې هيڅ غړی خوږمن نه وي او نه يې په بدن کښي تبه وي.

د انسان روغتیا هغه وخت خرابيږي چي د انسان و بدن ته کوم مکروب ور ننوزي او يا دا چي د سرطان (چنګاښ) د ناروغۍ په سبب د بدن کوم غړئ خپل کار پرېږدي.

مکروب څشی دئ؟
مکروبونه هغه کوچني ژوندي موجودات دي چي په سترګو نه ليدل کيږي او انسانان کولای سي چي د ډېر قوي مايکريسکوپ په مرسته يې ووينې. مکروب د انسان په بدن کي ډېريږي او هلته د انسان په بدن کښي هغه تيار خوراکي مواد خوري کوم چي انسان د خپل ځان د پاره جوړ کړي وي او د انسان په بدن کي ناروغي منځ ته راولي.

کله چي يو څوک ناروغه سي نو دوا خوري او ډاکتر ته ځي چي جوړ سي. پخوا چي دغه عصري دواوي نه وې نو انسانانو د يوناني طبيبانو څخه دوا اخيستله چي هغه يې د نباتاتو څخه جوړوله او يا به يې ارغ (عرق) ځني ايستئ او ناروغانو ته به يې ورکاوه. اوس چي دغه عصري او نوي دواوي پيدا سوي دي نو ډاکتران بې و ناروغه ته پر يوه کاغذ ور ليکي او ناروغان يې د دواوو د پلورنځي څخه رانيسي.

مکروبونه زياتره په نا پاکو او ډيرو زړو خوړو کښي ښه وده کوي او بيا د انسان و بدن ته ور ننوزي او انسان ناروغه کوي.

اوس ډاکټران او د روغتیا پوهان خلکو ته داسي لار ښوونې کوي چي که انسانان خپل شاوخوا پاک و ساتي نو به د مکروبو د ډېرېدو مخه و نیول سي او انسانان به د ناروغیو څخه خلاص سي.

د ناروغیو څخه د ځان ساتلو یوه بله لاره د واکسین کول دي. واکسین دوا نه ده مګر د انسان په بدن کښي د ځینو ناروغیو څخه د مخ نیوي د پاره د سړی سره مرسته کوي.

د انسانانو روغتیا یوازي د مکروبونو څخه نه خرابیږي بلکي د یو شمېر کیمیاوي ضررناکو موادو د موجودیت په اثر هم یو شمېر ناروغۍ منځ ته راځي. دغه کیمیاوي مواد د موټرانو او فابریکو څخه راوزي.

---

لغاتونه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| قوي | زور ور | | عصري | نوي | |
| نباتات | شنه بوټي | | پلورنځی | دکان (دوکان) | |

---

تمرین: څرنګه کولای شو چي د ځان، کورنۍ او ټولني روغتیا و ساتو؟

___

___

___

___

___

لاندي لغاتونه په جملو کي استعمال کئ!

قوي : ________________________________________

عصري : ________________________________________

نباتات : ________________________________________

مکروب : ________________________________________

پلورنځی: ________________________________________

لاندي پوښتنو ته جواب و ليکئ!

روغتيا څه ته وايي ؟

________________________________________

مکروب څه شی دئ ؟

________________________________________

________________________________________

واکسين څه شی دي ؟

________________________________________

________________________________________

________________________________________

# ښه نیت درلودل

د پسرلي ورځې او د کار وخت وو، یو سپین ږیری بزګر په خپله مځکه کې په کار بوخت وو او نیالګي یې اېښودل. دده عمر له شپېتو کالو څخه تېر وو ، د چا خبره د ګور پر غاړه ولاړ وو. مګر دده په همت کې څه تغییر نه وو راغلئ او په دغه وخت کې یې لا هم خپل کار کاوه. دی د نیالګیو په اېښودلو لګیا وو چې نا څاپه یو پاچا پرآس سپور وو او ور ته راغئ.

پاچا پوښتنه ځني وکړه چې" ستا عمر خو اخر ته رسېدلئ دئ او څرګنده ده چې تـه د دې نیالګیو مېوه نـه سې خـوړلای او نـه یـې سـیوري تـه کښېنستلای سې، نو ولي دومره زیار کاږې او ځان په تکلیف کوې؟"

سپین ږیری چې د ښه فکر خاوند وو پاچا ته یې وویل چې" پخوانیو زموږ د پاره نیالګي ایښي وه چې موږ یې مېوه وخورو او تر سیوري لاندي یې کښینو، نو موږ هم باید نیالګي کښېنوو چې تر موږ وروسته خلک یې مېوه وخوري او تر سیوري لاندي یې کښیني".

پاچا ته د سپین ږیري خبري ښه خوند ورکړ او څه پیسې یې دبخشش په توګه ورکړې.

سپین ږیری په خندا سو او ورته و یې ویل چې" د نورو نیالګي پسله څو کالو مېوه کوي مګر زما نیالګیو اوس ځای پر ځای مېوه وکړه او ما د خپل زیار ثمر ولیدئ".

پاچا پدې خبره څه نوري پیسې هم ورکړې او ډېره مهرباني یې ورسره وکړه.

سپین ږیرى بیا په خندا سو او ویې ویل چې ”د نورو خلکو نیالګې په کال کې یو وار مېوه کوي مګر زما نیالګیو په یوه ورځ کې دوه ځله مېوه وکړه. نو زه به ولې نیالګې نه کښېنوم او په دې لار کې به زیار نه باسم“؟

---

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| څرګنده | معلومه | سیورى | سایه |
| زیار | کوښښ ، زحمت | تکلیف | زحمت ، زحمت |
| ثمر | مېوه ، ګټه | ځله | واري |

---

تمرین:

بزګر ولې د پسرلي په شپو ورځو کې نیالګې کښېنول؟

___

___

د بزګر دا خبره چې ( ” پخوانیو زموږ د پاره نیالګې ایښې وه چې موږ یې مېوه وخورو او تر سیوري لاندې یې کښېنو، نو موږ هم باید نیالګې کښېنوو چې تر موږ وروسته خلک یې مېوه وخوري او تر سیوري لاندې یې کښېني“. )

ولې د پاچا خوښه شوه؟

ځکه چې ___

___

___

___

د بزګر دغه خبره چې و پاچا ته يې و کړه په سويډني ترجمه کئ!

"پخوانيو زموږ د پاره نيالګي ايښي وه چې موږ يې مېوه وخورو او تر سيوري لاندي يې کښېنو، نو موږ هم بايد نيالګي کښېښوو چې تر موږ وروسته خلک يې مېوه وخوري او تر سيوري لاندي يې کښېني".

# اسم (نوم) Substantiv

اسم یا نوم د شي، انسان، حیوان او ځای نوم ته وایي لکه مېز، قلم، کتاب، سړی، سدو، احمد، ملالۍ، افغانستان، کور او نور.

په لاندي جملو کي تر اسم لاندي خط کش سوئ دئ ویې لولئ:
موږ کابل ته ولاړو.
ملالۍ خپله ډوډۍ وخوړه.
احمد خپله روغتیا ښه ساتي.
زده کوونکي خپل کتابونه لولي.
خوشال د کور څخه مېلې ته ځي.

تمرین: په لاندي جملو کي تر اسم (نوم) لاندي خط کش کئ.
مزږ ستاسي کور ته ځو.

د ملالۍ خور د کتاب سره مینه لري.
کالي دي پرېوله!
دوی د کابل څخه سویډن ته راغله.
موږ غواړو چي کار وکړو.

ځیني اسمونه عام او ځیني خاص اسمونه وي:

خاص اسمونه لکه: احمد، زرمینه، افغانستان، سویډن، احمد شاه بابا، میرویس نیکه او نور.

عام اسمونه لکه: مېز، هلک، نجلۍ، کتاب، خور، خاله، عمه او نور.

اسم ( نوم ) د شمېر له مخي يا مفرد (يو ) يا جمع (ډېر ) وي لکه :

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| هلک | هلکان |
| موږک | موږکان |
| سپی | سپي ( سپيان ) |
| خر | خره |
| ښځه | ښځي |
| انا | انا ګاني |
| پښه | پښي |

يو څو اسمونه چي زموږ په ورځني ژوند کي په کار لوېږي :

کونډه : هغه ښځه چي مېړه يې مړ سوئ وي .

وراره : هغه ښځه چي ورور يې مړ سوئ وي .

يتيم : هغه څوک چي پلار يې مړ سوئ وي . زياتره په کوچنيوالي کي سړی يتيم بلل کيږي .

بوره : هغه ښځه چي ځوان زوی يې مړ سوئ وي .

---

تمرين : لاندي يو متن در کول سوئ دئ ، لومړی يې تر اسمونو لاندي خط کش کئ او بيا يې د عامو اسمو که جمع وي مفرد پيدا کئ او که مفرد وي جمع پيدا کئ !

څو ورځي مخکي (تر مخه ) احمد د خپلي خاله (ترور ) کور ته ولاړ . هلته يې د خاله د زوی سره يو کتاب چي د خاله خاوند ( مېړه ) يې ور کړ و لوست . په هغه کتاب کي چي د افغانستان د تاريخ په باره کي ليکل شوی وو د پخوانيو پاچاهانو نومونه ليکل شوي وه . دوی دواړه د خاله د خاوند څخه ډېر خوشاله وه .

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| ______ | ______ |
| ______ | ______ |
| ______ | ______ |
| ______ | ______ |
| ______ | ______ |
| ______ | ______ |
| ______ | ______ |
| ______ | ______ |

# د افغانستـــان تـــاريخ

افغانستان د اسيا د لويي وچي په زړه كي يو پخواني هيواد دئ. كله چي يې اوسنۍ نقشې ته ګورو دا هيواد هر وخـت د دغـي اوسنۍ نقشې پـه حالت كي نه وو. دا خاوره كله لويه او كله كوچنۍ شوې ده. دا ځكه چي هر وخت د بېګانـوو تـر حملـو لانـدي راغلې ده.




د افغانستان دغه او سنۍ نقشه چي موږ يې وينو د امير عبدالرحمان خان د پاچاهۍ راهيسي ده كوم چي په ۱۸۹۳ ميلادي كي يې د انګرېزانو سره منلې ده. په دغه قرار داد كي د انګرېزانو نماينده (ډيورنډ) نومېدئ ځكه يې د ډيورنډ قرارداد بولي.

## په دې خاوره كي له ډېر پخوا څخه د ژوند نښې نښاني:

د هغو كيندنو څخه چي په دې منطقه كي شوي دي پوهانو داسي نتيجه اخيستې ده چي په دې منطقه كي د ۲۰۰۰۰۰ څخه ۱۵۰۰۰۰ كاله پخوا انسانانو ژوند كړئ دئ. هغو انسانانو د حيواناتو ښكار كاوه.

په دې منطقه كي اخرنۍ مدنيت آريايي مدنيت دئ. اوس به و ګورو چي آريايان څوک وه.

# آریایان

تقریبا ۲۵۰۰ کاله د مخه تر میلاد( د حضرت عیسا( ع ) زیږېدنه ) د آمو د رود په شمالي برخه کې د سپین پوستو خلکو یو لوی جمعیت ژوند کاوه .




دا چي دوی په کښت او کرهنه بوخت وه ځکه یې ځانونه اصیل او نجیب بـــلــله . دغو خلــکو کوچي ژوند درلود. دوی خپل د اوسېدو ځکه د آریانا وېجه او هغه ژبه چي دوی خبري په کولې د آریک په نامه بلله او دغه خلک آریایان وه . دا چي د آریایانو شمېر زیات سو نو د آمو د سیند جنوبي برخو او بــاختر( اوسنی بلخ ) تــه راغله او د هندوکش د غرو په شمالي او جنوبي لمنو کي استوګن سوه. دغه خلکو د نفوسو د زیاتوالي له کبله د شرق خوا ته هجرت وکړ، د سیند تر رود ور واوښتل او د شمالي هند په پراخو ځکو کي استوګن سوه. آریایانو دوه مدنیتونه منځ ته راوړل چي دلته لاندي به یې و لولئ:

## ويدي مدنيت :

د آريايانو هغه ډله چي د شرق خوا ته مهاجر سوه ، د سيند تر رود تېر سوه او د شمالي هند و پراخو مځکو ته يې ځان و رساوه . هلته يې يو نوی مدنيت جوړ کړ چي دغه مدنيت يې د ويدي په نامه ياد کړ (۱۴۰۰) د حضرت عيسا (عليه السلام) تر پيدا کېدو تر مخه .

ويدي مدنيت څلور کتابونه لري چي د سانسکريټ په ژبه او زياتره په شعر ليکل سوي دي ، ريګ ويدا يې تر ټولو زوړ کتاب دئ .

## اويستايي مدنيت :

د آريايانو دوهم مدنيت د افغانستان په بخدي (بلخ) او د هندوکش په شمالي برخو کي وو . دا مدنيت په ۱۲۰۰ ق م کي شروع سوئ دئ ، کتاب يې د اويستا په نامه او مدنيت يې د اوستايي مدنيت په نامه ياديږي .

د اوستا څخه داسي معلوميږي چي آريايي قومونو په بخدي (بلخ) کي ډېر ښکلی مدنيت جوړ کړ او د مالدارۍ ، ښکارکولو ، کوچي توب ، کښت او کروندې پر ځای يې ښاري او مدني ژوند پيل کړ او د استوګني ښکلي ځايونه يې جوړ کړل .

پدغه دوره کي د لومړي ځل د پاره په بلخ کي د پاچاهۍ سازمان منځ ته راغئ چي (يما) يې لومړنی پاچا وو چي د بلخ ښار يې جوړ کړ . پدې خلکو کي يو معين دين منځ ته راغئ چي ځانته يې مدني او روحي قوانين او لارښودني درلودې .

د دې دين اساس اېښودونکی زردشت نومېدئ. زردشت د (يوه) خدای وجود ته عقيده درلوده او خلک يې د نورو خدايانو د منلو څخه د يوه خدای عبادت ته را و بلل او د حيواناتو قرباني کول او د سوما د بوټي د شرابو څښل چې په آريايانو کې يې رواج درلود د منځه يوړه. زردشت درې ښځې درلودې.

تمرين:

۱- د افغانستان دغه اوسنۍ نقشه چې تاسي وينئ د کوم وخت را هيسي ده؟

---

---

۲- د اوسني افغانستان په خاوره کې له کومه وخته انسانانو ژوند کړی دئ او چيرې؟

---

---

۳- آريايان څوک وه او چيرې يې ژوند کړی دئ؟

---

---

۴- آريايانو کوم مدنيتونه، چيرې جوړ کړي دي او مهم ټکي يې کوم وه؟

---

---

---

___

۵ـ زردشت څوک وو او خلک يې څه ته را بلل ؟

___

___

___

___

## د افغانستان نوم څرنګه منځ ته راغلئ دئ ؟

افغانستان د تاريخ په اوږدو کي په دغه لاندي درو نومونو بلل سوئ دئ :

- آريانا
- خراسان
- افغانستان

لومړی نوم يې آريانا وو چي د آريايانو د ټاټوبي ( د اوسېدو ځای ) معنی ور کوي .

د دي تاريخي مځکي دوهم نوم خراسان دئ چي د ۳ دريمي ميلادي پېړۍ څخه د آريانا پر ځينو مځکو کښېښودل سو . دغه خراسان نوم بيا په کراره کراره د يفتليانو ( يوه کورنۍ ده چي د تاريخ په يوه دوره کي يې په دي هيواد کي پاچاهي کوله ) د امپراتورۍ ( پنځمه ميلادي پېړۍ ) را هيسي ډېر شهرت پيدا کړ او تر ۱۲ م پېړۍ پوري يې دوام درلود .

زموږ د هیواد بل تاریخي نوم افغانستان دئ. دا نوم د ۱۲ میلادي پېړۍ په پای او د ۱۷ میلادي پېړۍ په پیل کي را منځ ته سو او د هوتکیانو د دورې سره یو ځای یې زیات شهرت و موند چي تر اوسه پوري دوام لري.

تمرین:

۱ـ اوسنی افغانستان ولي او څه وخت د آریانا په نوم بلل کېدئ؟

________________________________

________________________________

۲ـ د افغانستان نوم څه وخت خراسان شو او څه وخت یې دغه نوم ډېر عام شو؟

________________________________

________________________________

۳ـ د افغانستان دغه اوسنی نوم څه وخت پر دې هیواد کښېښود شو؟

________________________________

________________________________

تر اوسه مو د افغانانو د اصل په باره کي یو څه معلومات تر لاسه کړ. دا چي افغانستان یو ډېر پخوانی هیواد دئ او ډېر زوړ تاریخ لري او ټوله تاریخ یې د دې ټولګي د زده کوونکو د پاره سخت دئ نو ښه به داوي چي د آریاینو تر دورې وروسته تر یو شمېر تاریخي دورو تېر شو او د افغانستان د تاریخ څخه ګل ګل پېښي را ټولي کړو.

# هوتکیان

د پښتنو د پخوانیو نیکه ګانو څخه یو د بیټني په نامه یادېدئ، چي د ده د لور یو زوی د غلجي = غرزي په نوم مشهور وو کوم چي د غلجیو د قوم لوی نیکه دئ.

دغه نوم به د غرزي (په غره کي پیدا سوئ) څخه را وتلئ وي. د دې قوم یو سړی چي هوتک نومېدئ د هوتکو د قوم لومړی نیکه دئ کوم چي په کلات کي اوسېدئ او د پټي خزانې د لیکونکي له قوله ده خواږه پښتو شعرونه ویل. د هوتکو د سلطنت د ستر مشر میرویس خان پلار ښالم خان په اتم پلار و نومړي هوتک ته رسیږي پدې ډول:

ښالم د کرم زوی، هغه د مند زوی، هغه د عمر زوی، هغه د جلال الدین زوی، هغه د قطب زوی، هغه د اسحاق زوی، هغه د حسین زوی، هغه د ملکیار زوی او هغه د هوتک زوی.




د هوتکو کورنۍ د ترنک او ارغنداو د رودونو په سرچینو کي محلي حکم رانۍ کولې. د دې کورنۍ د حال شرحه چنداني زموږ لاس ته نه ده راغلې خو تر میرویس خان د مخه د غلجیو د قومونو حکمراني او ریاست د جلدک څخه

تر غزني پوري د سلطان ملخي توخي چي د میرویس خان نیکه وو په لاس کي وو . د میرویس خان پلار ښالم خان د سلطان ملخي د لور نازو سره واده کړئ وو او د هغي څخه ځلور زامن دنیا ته راغلي وه چي نومونه یي حاجي میرویس خان ، عبدالعزیز ، عبدالقادر او یحیی خان دي . د دوی د جملي ځخه میرویس خان د قوم مشري پر غاړه واخیسته او هیواد یي د بېګانوو د لاسه خلاص کړ.




## حاجي میرویس خان نیکه

حاجي میرویس خان نیکه د ښالم خان زوی او په قوم هوتک وو . پلار یي د هوتکو مشر وو . د پلار تر مرګ وروسته حاجي میرویس خان د قوم مشر توب پر غاړه واخیست. دی د هوتکو د مشرانو څخه یو نومیالی مشر وو . میر ویس خان دري وروڼه درلودل چي نومونه یي عبدالعزیزخان، عبدالقادر خان او یحیی خان وه ، خو په دوی کي میرویس خان و کولای سوای چي د قوم مشر توب پر غاړه واخلي.


حاجي میرویس خان

دمخه تر دي چي میرویس خان د قوم مشر توب په لاس کي واخلي د غلجیو د قوم حکمراني او ریاست د جلدک څخه تر غزني پوري د سلطان ملخي توخي په لاس کي وه .

د میرویس خان پلار ښالم خان د سلطان ملخي د لور نازو سره واده کړئ وو .

د یوولسمي هجري لمریزي پېړۍ په اخر کي زموږ د هیواد پر غربي څنډو باندي زموږ د ګاونډي هیواد ایران ( صفوي دولت ) له خوا تېری سوئ وو . زموږ د هیواد د کندهار په ښار کي د صفوي دولت د لښکرو مشر ( ګورګین ) حکمراني کوله او د دې ښار پر خلکو یې ظلمونه کول .


صفوي شاه حسین

ګورګین د ځان سره یو کلک ګرجی ګارډ او ۲۰۰۰۰ غښتلی لښکر را وستلئ وو .

زموږ توریالي پښتون قوم هیڅکله د چا تېری ، د بل تر لاس لاندي والی او ظلم نه دئ منلئ . د غلیمانو دغه راز لاس اچولو ته یې په بده سترګه کتلي دي . د ګاونډیانو د دې سلوک څخه ډېر خواشینئ سو . اولس سره را ټول سو او ښاغلی حاجي میرویس خان یې د قوم د مشر په توګه و ټاکه ۱۷۰۹م .

میرویس خان څلور ځله د شا حسین صفوي و دربار ته ولاړ چي هلته د ګورګین له لاسه شکایت و کړي او هم یې غوښتل چي د شاه حسین دربار د نژدې څخه مطالعه کړي . صفوي پاچا میرویس خان ته داسي ویلي وه :

"زه هم د ګورګین څخه ببره ( وېره ) لرم ، هغه زما خبره هم نه مني " .

میرویس خان چي د هغه دربار څخه مایوس سو نو د هغه ځایه حج ته ولاړ . هلته یې د عربو د عالمانو څخه د صفوي دولت پر ضد د جهاد فتوا ( فتوی ) واخیسته او هیواد ته راغئ .

په کوکران کي يې يوه لويه ملي جرګه جوړه کړه او په هغه کي يې د اصفهان د دربار حال او د عربي عالمانو د فتوا په هکله معلومات ور کړ. د خلکو څخه يې د ملي يو والي غوښتنه وکړه. هغوی و منله چي د ده سره به د هيواد په ازادي کي د ويني تر اخري څاڅکي پوري ولاړ وي. هغه وو چي ميرويس خان د قوم په مرسته په کندهار کي ګورګين له منځه يووړ د ذيقعدې ۲۹ (۱۱۱۹ هـ ق) او ملت يې د هغه له جنجاله خلاص کړ.


د ميرويس نيکه د قبر ګنبده

حاجي ميرويس خان خپل ټول ژوند د ملت د پت په ساتلو او لوړتيا کي تېر کړ. د هيواد په چارو کي به يې هر وخت جرګې جوړولې او هيڅ کار به يې د ملت بې مشورې نه کاوه. حاجي ميرويس خان نيکه چي کله قوم په ډېره مېړانه د پردو د لاسه و ژغوره نو و يې غوښتل چي د هيواد چاري کوم بل مشر ته و سپاري. مګر قوم دا قبوله نه کړه او و يې غوښتل چي ميرويس نيکه د هيواد د پاچا په توګه و ټاکي.

ميرويس نيکه ونه غوښتله چي د پاچا په توګه کار ته دوام ور کړي نو هغه وو چي د قوم د مشر په توګه يې د قوم خدمت ته دوام ور کړ. ميرويس خان په ډېره هوښياري د غلجيو او ابدالي قومونو تر منځ ورور ګلوي او اتفاق ساتلئ وو. د ده مېرمن هم د ابدالي کورنۍ څخه وه.

ميرويس خان د ذيحجې پر ۲۸ د (۱۱۲۸ هـ ق ـ ۱۷۱۵ م) د ۴۱ کالو په عمر د دې جهانه ولاړ او د کندهار په کوکران کي ښخ سو.

د ميرويس خان تر مرګ وروسته د ده مشر ورور عبدالعزيز خان د ده پر ځای کښېنوست. دا سړی د خپل مشر ورورپه شان د لوړ همت څښتن نه

وو. کله چې یې اقتدار پیدا کړ نو سمدستي یې لویه جرګه راټوله کړه او د هغو څخه یې د صفوي دولت د اطاعت غوښتنه وکړه. ملي جرګې دغه درونډ بار قبول نه کړ مګر عبدالعزیز خان بیا هم صفوي دولت ته د اطاعت پیشنهاد و کړ چې په هغه کې یې درې شرطونه لیکلي وه:

١ـ هغه ججه (باج او خراج) چې د ګورګین په وخت کې د افغانانو څخه اخیستل کېده هغه دې معاف سي.
٢ـ صفوي لښکر دې کندهار ته نه راځي.
٣ـ پاچاهي دې د عبدالعزیز په کورنۍ کې دوام و لري.

کله چې افغانان د ده د دې ناوړه کار څخه خبر سول نو څلوېښت زره نفره د میرویس خان د مشر زوی محمود سره یو ځای سول او عبدالعزیز یې له منځه یووړ ١١٢٩ هـ ق یا ١٧١٢ م او شاه محمود یې د پاچاهۍ پر تخت کښېناوه.

پوښتني:

١ـ غلجي څوک دي؟
٢ـ هوتک څوک وو؟
٣ ـ میرویس خان د هوتک نومي سره څه اړیکي لرل؟
۴ـ ولي خلکو میرویس خان د قوم د مشر په توګه و ټاکه؟
۵ـ میرویس خان چې د قوم مشر سو نو کوم مهم کارونه یې و کړه؟
٦ ـ میرویس خان چې غلجي وو د ده د مناسبات د ابدالي قوم سره څرنګه وه؟
٧ـ د میرویس خان تر مرګ وروسته څه پېښه سوه؟
٨ـ هغه څوک چې تر میرویس خان وروسته پاچا سو څه یې و کړه؟
٩ـ ولي خلکو عبدالعزیز خان مړ کړ او پر ځای یې شاه محمود منځ ته را ووست؟